مجله علمی – تحقیقی علوم انجنیری پوهنتون بغلان
د بغلان پوهنتون د انجنیري علومو علمي او څېړنیزه مجله
https://baghlan.edu.af -/ volume (1) , Issue (1), 2024

# دکابل ښارپه پنځمه ناحیه کي پاکو اوبو ته دخلکو دلاسرسي ارزونه

[1] پوهنیار مجیب الله مجیب، عضو کادر علمی پوهنځی محیط زیست، پوهنتون کابل
[2] پوهنمل دوکتور عین الله میرزازاده ، عضو کادر علمی پوهنځی انجنیری، پوهنتون البیرونی

## Abstract

At present, when the people of Kabul City are the only source of drinking water, the city's sewage system and improper management of Kabul City, the unbalanced development of Kabul City, the quality of land and its quality have been affected. The research in the 5th main area of the district is to make people have access to healthy water, drink less water, and raise public awareness. In order to carry out this research, books, articles, journals, various internet sites, and the Ministry of Energy, as well as survey information, were used. Due to the lack of water, there are many reasons for this, and the lack of water is due to the excessive use of water in the changing climate. In this area, the quality of drinking water is low. The main reasons are the lack of water, the lack of communication, the quality of the media, wasteful consumption, and the lack of cooperation of the people in the government.

**Key words:** Kabul City, drinking water, public awareness, excessive use of water

[1] *Email : mujeebmujeebullah1401@ku.edu.af*
*Mob : (0093) 76 559 5298*
[2] *Email : ainullah.mirzazadah@gmail.com*

**لنډيز**

په اوس وخت کی دکابل ښاردخلکو د څښاک داوبو یوازیني سرچینه تر ځمکي لاندی اوبه دی، دښاری فاضلابو ناسم مدیریت دکابل ښار غیر متوازن پرمختګ دکابل ښار ترځمکي لاندی اوبه دکمیت او کیفیت له نظره اغیزمنې کړی دي. د دی تحقیق موخی په پنځمه ناحیه کی د سالمو اوبو ته دخلکو لاسرسی، د ښنبلو د اوبو کمیدو لاملونه او د عامه پوهاوي کچه ده. ددې څېړنې د ترسره کولو لپاره له کتابونو، مقالو، ژورنالونو، مختلفو انټرنېټي سایټونو،داوبو او نرژی وزارت او همدارنګه د سروې له معلوماتو څخه استفاده شوې په نوموړې ناحیه کې سالمو او پاکو اوبو ته دخلکو دلاسرسي کچه بیخي کمه ده، په نوموړې ناحیه کې داوبو دکمبود لاملونه وچکالي، دنفوس ډیریدل، دځمکې لاندې اوبو څخه بی رویه استفاده او داقلیم تغیر دی. په نوموړی ناحیه کی دڅښاک سالمو اوبو ته دلاسرسې کچه کمه ده ، عمده لاملونه یی اوبو کمبوداوداوبه رسونې دشبکو پروخت او معیاري ډول داوبو نه رسونه، داوبو په بی ځایه مصرفولو کې، دحکومت او خلکو لخوا نه همکاری ده. په نوموړی ناحیه کی په اکثریت ډول اوبه په کورنیو اموراتو کې لکه څښاک،پخلي او داسی نورو مسایلو کې مصرفیږي او په کمه اندازه په نورو برخو موټرشویی ،زراعت او داسی نورو برخو کی په مصرف رسیږې

**کلیدي کلمات: اوبو زیات استعمال، د څښاک پاکې اوبه ، عامه پوهاوی ، کابل ښار**

## ۱. سریزه

طبیعت د الله (ج) یوه تحفه ده او دا قیمتي تحفه یی د انسان او حیوان او نبات د آرامتیا لپاره پیدا کړی ده چې آسمان، ستوری، ځمکه، هوا، غرونه، درې ،دښتې،سیندونه، ځنګلونه، چراګاوې، او داسی نور دا ټول په طبعیت کی شامل دی، اوبه د الله (ج) د نعمتونو له جملې څخه یو لوی او اساسی نعمت دي چی لوی رب(ج) دغه نعمت دبشر په اختیار کی ورکړی دي، تر څو بشر او نور ژوندی موجودات د خپل ژوند د پرمخ بیولو لپاره ترې ګټه واخلي،د اوبو اهمیت او مصرف په بشری ټولنه کی د نفوس په ډیریدو او دننی تکنالوژی په پیشرفت سره خورا جګ شوي دی، بناپه جرات سره ویلای شو چی د ۲۱پیړی په شروع کی د ځمکی په کره کی دمیشتوخلکو مهمه نګرانی داوبو ده چی متاسفانه دکمیت او کیفیت له نظره دخلکو ضروریات نه شی تامینولای، د اوبو څخه ناسمه استفاده د سطحی او ترځمکې لاندی اوبو د زیرمو د ککړتیا لامل شوی دی چی دغه حالت

دفعلی انسانانو او آینده نسلونو ژوند د خطر سره مخامخ کیدلای شی. اوبه نه تنها دژوندیو موجوداتو د ژوند یو حیاتی عنصر دی، بلکی د بشریت دپیشرفت او ترقی عنصرهم دی(NEPA, 1401:12). بیلانس یا توازون د ځمکه لاندي اوبو د تغذیې او تخلیې دحجم دمقدار دمحاسبوې طریقو څخه یوه طریقه ده، چې دریاضی د تجربي فورمولونواو هایدرولوژی دعلم په واسطه تعینیږي، دکابل ښاردخلکو دڅښاک وړ اوبو منابع۹۵ % ترځمکه لاندي اوبو څخه تامینیږي، ولې په دی اواخیرو کې دکابل ښار ترځمکه لاندي اوبوکي د پام وړ کموالې راغلی دي،دکابل ښار ترځمکه لاندی اوبه په ۲۰۲۱ میلادی کال کې په ۱۵ناحیه کې په زیاته اندازه ښکته تللی دي، او په ۲۱ ناحیه کې په کمه اندازه ښکته تللی دي، او په اوسط ډول دټول کابل ترځمکه لاندي اوبه ښکته تللی دي، دکابل ښار درباران کچه په ۲۰۲۱ کال کې ۱۸۹ملی متره وه،او په مجموعي توګه دکابل ښاردځمکي لاندي اوبو ورکونکو طبقو جذب ۱۷,٤۷ میلیون مترمکعب تخمین شوئ دي.

دکابل ښار ترځمکې لاندي اوبه د دریو سطحو اوبو دجریانونو په واسطه تغذیه کیږی،چې عبارت دي له د میدان وردګو ،لوګر،او پغمان د رودونو څخه ،دنوموړو رودونو څخه ۳۳۱ میلیون مترمکعب سطحي اوبه دکابل ښار ته ننوځي، دکابل د ښار نه دتنګې غارو داستیشن په حدودو کې ۲۰۳ میلیون مترمکعب اوبه خارجیږي،اود کابل په ښار کې ۱۲۸ میلیون مترمکعب استفاده کیږي،او ددې جملې څخه ۲۵,۷۶ میلیون متر مکعب اوبه ترځمکه لاندي اوبو ته نفوذ پیدا کوي ،او دځمکې لاندي اوبو د تغذیې لامل ګرځي(صدیقی،۱۴۰۲). په دی تحقیق کی کوم اهداف چې غواړو لاسته راوړو عبارت دي له: د کابل ښارپه پنځمه ناحیه کی صحیح او سالمو اوبو ته دخلکو دلاسرسې دکچې ارزونه، په نوموړی ناحیه کې د اوبو دکمبود دلاملونو ارزیابی کول اوداوبو دسرچینو دککړونکو په هکله دنوموړې ناحیې دخلکو دعامه پوهاوي ارزیابی کول دي. څرنګه چې صحیح او سالمو اوبوته لاسرسی درلودل دټولنې د هروګړی داساسی ضرورتونو له جملې څخه شمیرل کیږی،دصحیح او سالمواوبو کمې کیدل د افرادو او اشخاصو د متضرر کیدلو او حتی د دوی دمرګ لامل هم ګرځی،اوپه عمومی توګه دټولو ژوندیو موجوداتو ژوند له خطر سره مخامخ کوی نو په دی تحقیق کی لاندی پوښتنو ته ځواب پیدا کوو چې عبارت دي له: په پنځمه ناحیه کی صحیح اوسالمواوبو ته دخلکو لاسرسې څه ډول دی؟، دکابل ښار په پنځمه ناحیه کی دڅښلو د اوبو د کمیدلو لاملونه څه دی؟ او دکابل ښار

دپنځمې ناحیې داوبو دککړتیاوپه هکله دخلکو دپوهاوې کچه څومره ده؟. په اوس وخت کې دکابل ښاردخلکو د څښاک داوبو یوازیني سرچینه تر ځمکې لاندې اوبه دي،دښاري فاضلابو ناسم مدیریت دکابل ښار غیر متوازن پرمختګ دکابل ښار ترځمکې لاندې اوبه دکمیت او کیفیت له نظره اغیزمنې کړې دي.دصحی اوبو نه شتون یوه لویه پیښه اومشکل دي،چې نن ورځ دپنځمې ناحیې خلک ورسره مخامخ دی،او د نوموړې ناحیې دخلکو دامشکل ورځ تربلې ډیریدونکی دي. ما هم په خپله څیړنه کی دصحیح او سالمو اوبود کمښت ،صحی اوبو ته لاسرسی ،دنوموړې ناحیې داوبودکمیت،کیفیت په هکله دکابل ښار د پنځمې ناحیې دخلکو نظریات او لیدلې حالت ارزولې دی.ترڅو په فعلی شرایطو کی د خپلو ښارې اوسیدونکو لپاره یوه معقوله حل لاره پیداکړم په دی ساحه کی مخکی کوم تحقیق نه دی شوی نو دا لمړنی تحقیق دی چی د کابل ښار په ۱۵ ناحیه کی ترسره کوم.

د۱۳۸۴په ژمی او ۱۳۸۵ه ش په پسرلي کی د فهیمی عابدین او همکارانو لخوا یی د تهران په ښار کی د څښاک په اوبو کی د فلوراید د کچی دمعلومولو لپاره دسپکتروفوتومتری په طریقه یوه څیرنه سرته ورسیده ،په ژمی کی د۶۰۰ ازمایښت وړ ذخیرو څخه ۴۵ ذخیرو د ۰،۳ ppm څخه کم فلوراید درلود،پداسی حال کی د ۱۳۸۵ ه ش په پسرلی کی دفلوراید اندازه په ۵ ذخیرو کیppm ٠,٢-٠,٤ پوری وه،او په د۶۷ ذخیرو له جملی نه په ۴۴ ذخیرو کی دفلوراید کچهppm ٠,٤ -٠,٥ په منځ کی وه (فهیمی،۱۳۸۴:۴۳ ). دیوې بلې مطالعې په اساس په اروپا او روسیه کې تقریبا ۵۰۰ میلیونه نفر دککړو اوبو په خطر کی واقع دی،د مثال په ډول په شما لې روسیه کی نیم میلیون خلک دهغه مشروبو اوبو (Kola Peninsula) څخه استفاده کوي چې درانه فلزات پکې منحل دی او همدغه مشکل ددې لامل شوی دی چې شیدي خوړونکې اطفال زیات دمرګ سره مخامخ شي (Wilson, 2019:22).

## ۲. دڅیړنې تګلاره

کابل دافغانستان پلازمینه ده،دهیواد په ختیځه برخه کي موقعیت لري د ۲۰۲۱ میلادی کال د اټکل له مخې یی نفوس ٤,٦ میلیونه اټکل شوی دی.کابل همدارنګه دافغانستان سیاسی کلتوري او اقتصادي مرکز ګڼل کیږي، دیاد ولایت شمال لویدیځ ته پروان،شمال ختیځ ته کاپیسا،ختیځ ته لغمان،جنوب ختیځ ته ننګرهار،جنوب ته لوګر،اوجنوب لویدیځ ته وردګ ولایتونه پراته دي، دکابل ولایت جغرافیوي موقعیت په لاندې نقشه کې ښودل شوئ دي.




شکل ۱: دکابل ښار جغرافيوي موقعيت نقشه(Arc-GIS)

کابل ولابت چې د هېواد په ختيځه برخه کې موقعيت لري، ټول مساحت يې ۴۸۸۴ کيلو متر مربع دي کابل همدارنګه د افغانستان سياسي، کلتوري او اقتصادي مرکز ګڼل کېږي. د چټک ښاري کېدو له امله کابل د هندوکش غرونو ترمنځ د نرۍ درې په لوړو کې موقعيت لري او کابل سيند پکې بهيږي. ويل کېږي چې کابل ښار ۳۵۰۰ کاله لرغونوالی لري چې د هخامنشيانو په دوره کې يې يادونه شوې ده.کابل د آسيا په څلورلارې کې موقعيت لري، چې نيمايي لاره يې لويديځ کې استانبول او نيمايي نوره يې ختيځ هانوي ته رسېږي، نو ځکه د جنوبي او منځنۍ آسيا د سوداګرۍ مسيرپه اوږدوکې په ستراتېژيک موقعيت کې پروت دی.کابل د لرغونې وربښمنو لارې کيلي ده. دا ښار د هخامنشي ستړواکۍ برخه وه، بيا وروسته ورپسې سلوکيان راغلل، بيا مائوريا، کوشانيان، ساسانيان، هندوشاهي، او ترک شاهي ګان، صفاريان، سامانيان،غزنويان، غوريان، خوارزميان، قرلقيان، خلجيان، تيموريان، مغوليان، او هوتکيان او ورپسې په ۱۷۴۷زکال کې د افغانستان دراني وو. کابل په ۱۷۷٦زکال کې د احمدشاه بابا د زوی تيمورشاه دراني پرمهال د افغانستان پلازمېنه شوه.کابل چې د هېواد په ختيځ کې پروت دی، د افغانستان له څلور دېرشو ولايتونو څخه يو دی. پنځه اتيا سلنه وګړي يې په ښاري سيموکې ژوند کوي (صديقی ،۱۴۰۲:۵۵).




شکل۲: دکابل ښار جغرافیوي موقعیت نقشه(Arc-GIS)

## ۲-۱. د څېړنې ساحه

پنځمه ناحیه د کابل ښاریوه له ګڼ مېشته ناحیو څخه ګڼل کېږي. چې د احصائیې او معلوماتو د ملي اداري د معلوماتو له مخې په ۱۴۰۱ ه ش کال کې یې نفوس (۳٦٧٦٣٠) تنه اټکل شوی. چې له دې جملې څخه (۱۸۸۰۷۰) تنه یې نارینه او(۱۷۹۵٦۰) تنه یې د اناث طبقه تشکیلوي. او ټولې (۴۴۱٦۵) کورنۍ په دې ناحیه کې ژوند کوي. په دې ناحیه کې په زیات شمېر دولتي، بین المللي، او خصوصي بنسټونه شتون لري نو له دې کبله د کابل ښاروالۍ لپاره یوه له مهمو ناحیو څخه شمېرل کېږي. مجموعي مساحت یې د ۲۸ کیلومتره مربع په شاوخوا کې دی اوچارچاپېر یې ۳۰ کیلومتره دی (NEPA, 1401:23).




شکل ۳: دکابل ښار دپنځمې ناحيې دجغرافيوي موقعيت(Arc-GIS)

دا څېړنه د کابل ښار په پنځمه ناحيه کې (صحی او سالمو اوبو ته دخلکو دلاسرسې ارزونه ) تر عنوان لاندې ترسره شوې ده ددې څېړنې د ترسره کولو لپاره له کتابونو، مقالو، ژورنالونو، مختلفو انټرنېټي سايټونو،داوبو او نرژی وزارت او همدارنګه د سروې له معلوماتو څخه استفاده شوې چې د معلوماتو راټولو لپاره له لاندې مېتودونو څخه ګټه اخيستل شوې. کمي (ساحوي مېتود) دا چې د کابل ښار په پنځمه ناحيه کې سالمو اوبو ته دخلکو دلاسرسې اړوند کافي اندازه معلوماتو شتون نه درلود نو د موضوع د لاښه روښانه کولو لپاره د ګوګل سمپل سایز فورمول په اساس د موضوع اړوند (۳۸۴) پوښتنپاڼې په ساحه کې توزيع شوې او ددې پوښتنپاڼو په مرسته اړين معلومات راټول شول وروسته دغه معلومات د Excel پروګرام په مرسته تجزيه او تحليل شول بيا د کمپيوټر د نومړي پروګرام په مرسته د ګراف په شکل وښودل شول چې نتيجه يې تاسو په ځلورم څېرکي کې ليدلای شئ.

کيفي ميتود ( انټرويو) د موضوع د لا وضاحت او شننې لپاره مو غوره وګڼله،داوبو او انرژۍ وزارت د بعضو رياستونو له مسولين سره ،چې له هغه جملې دځمکه لاندې اوبو دسرچينو رياست له عمومی ريس ،او دنومړې رياست دجيولوجيکي ارقامو دتحليل له آمرڅخه دانټرويو پوښتنې چمتو او اړين معلومات مو راټول کړل.

## ۲-۲. د اعتبار شاخص آزمايښت

د پوښتنپاڼې د جوړښت او ترتيب څخه وروسته پوښتنپاڼه بايد د ارزونې لپاره بايد د متخصصينو سره شريکه شي تر څو د موضوع اړونده پوښتنې مشخصې کړي. زما پوښتنپاڼه هم زموږ استادانو وارزوله چې وروسته له هغې په Excel کې تحليل شوه د (I-CVI Test) په اساس بايد د هرې برخې سلنه ۰,۷۰٪ وي زما د پوښتنپاڼې د هرې برخې سلنه په لاندې جدول کې ليدلای شئ.

**جدول ۱ : د اعتبار شاخص آزمايښت** (I-CVI Test)

| شميره | I-CVI | پوښتنې | برخې |
|---|---|---|---|
| ۱ | ۰,۷۲ | ۱۱ | صحيح اوبو ته لاسرسی |
| ۲ | ۰,۸۰ | ۱۰ | غيرسالمو اوبوپه هکله دپوهې کچه |
| ۳ | ۰,۸۲ | ٦ | داوبو دکمبود لاملونه |

## ۳- دڅېړنې موندنې او مناقشه

په دغه څېړنه کې دکابل ښار دپنځمې ناحيې د اوسيدونکو سالمو اوبو ته دلاسرسې دکچې دارزونې لپاره ۳۸۴ پوښتنپاڼې په نومړې ناحيه کې توزيع شوې دي او شوې،په دغه پوښتنپاڼو کې دځواب ورکونکو څخه ددوی جنسيت.عمر،لوړې زده کړې،او دکورنې تعداد،او په نومړې ناحيه کې د سالمو اوبو ته لاسرسی،داوبو کيفيت،داوبه رسونو دشبکو ځانګړتياوو،روزانه مصرف او داوبو روزانه تقاضا داوبو دکمبود لاملونه پوښتلې وو. وروسته ۳۸۴ پوښتنپاڼې تکميل او تر تحليل لاندې ونيول شوې. دغه څېړنه د کابل ښار دپنځمې ناحيې په مختلفو برخو کې سرته رسيدلې ده او اشخاص په تصادفي انتخاب شوي دي،د ۳۸۴ نفرو ځواب ورکونکو څخه ۳۲۵ نفره نارينه،او ٦۰نفره ښځينه تشکيلوې دځواب ورکونکو تعداد په لاندې ګراف کې ښودل شوې دي.




شکل ۴: دځواب ورکونکو دجنسیت ډول

دپورته گراف په اساس،۸۴٪ ځواب ورکونکي نارینه او ۱٦٪ ښځینه ځواب ورکونکي دي ،چي په مجموع کي ۳۴۸ نفره راغلي.




شکل ۵: دځواب ورکونکو د عمر دکچې فیصدی

تشریح:دپورته ګراف څخه معلومیږي چې د۳۸۴ کسانو له جملې په سلو کې د۴۲ ٪ کسانو عمر د ۱٦ـ ۲۰ پورې اوپه سلو د ۴۴٪ کسانو عمر د ۲۵—۳۰ پورې او په سلو کې ۱۲٪ کسانو عمر د۲۱ ـ ۲۵ پورې او په سلو کې ۲٪ کسانو عمر له۳۰ کالو جګ دی.




شکل ٦: دخواب ورکونکو کسانو سواد او لوړې زده کړې

تشریح: دخواب ورکونکو د سواد کچه او اندازه ښيي چې دزده کړوپه اساس په سلو کې ۳۴٪ د۱۲ نه فارغ او په سلو کې ٦۰٪ لیسانس او په سلو کې ۱٪ ماستر دی او ۵٪ خواب نه دی ورکړی




شکل ۷: دخواب ورکوونکو دکورنی دغړو تعداد

تشریح: دپورته گراف په اساس دځواب ویونکو دکورنیو دغړو دتعداد فیصدی،۳٪ له ۵ کم او ۳۵٪ د ۷ تر۸ او ۴۶٪ له ۹ تر۱۰او ۱۶ ٪ ۱۰ د زیات غړی انتخاب کړې دي. دویمه برخه : په دی برخه کي مورږ پنځه ځوابه پو ښتني مطرح کړي دي،چي تاسو يې په لاندي شکلونو کي ليدلاي شئ.

اوله پوښتنه : تاسو ترکومې اندازي پوري دځنباک سالمو اوبو ته لاسرسی لرئ؟




شکل۸: سالمو اوبو ته دلاسرسی دکچی فیصدی

تشریح: دپورته گراف ښخه معلومیږی چی،په سلو کي ۴۷٪ ځواب ورکونکو ځواب ورکړی چی سالمو اوبو ته لاسرسي کم،په سلو کی ۳۵٪ ځواب ورکړی چی سالمو اوبو ته لاسرسی متوسط،په سلوکي ۱۵٪ ځواب ورکړی چی صحيح اوبو ته لاسرسی ډير کم اوپه سلو کي ۲٪ ځواب ورکړی چي سالمو اوبو ته لاسرسی زیات او په سلو کي ۲٪ځواب ورکړی چي ډیر زیات خلک سالمو دځنباک اوبو ته لاسرسي لري.نو دگراف نه کلی نتیجه لاسته راځي،چي زیات خلک په مستقیمه توگه دځنباک سالمو اوبو ته لاسرسی نه لري.

دوهمه پوښتنه:ستاسو په نظر د کابل ښار دپنځمې ناحیې د نفوس ډېریدل په څمکه لاندې اوبو اغیزې لرې؟




شکل ۹: دنفوس دډیریدو اغیزی په څمکه لاندی اوبو

تشریح دپورته گراف په اساس دځواب ورکونکو په سلو کی ۵۰٪ ځواب ورکونکو دډیر زیات او په سلو کی ۳۳٪ ورکونکو دزیات ځواب انتخاب کړی دی او په سلو کې ۱۰٪ ځواب ورکونکو ځواب ورکړې چې متوسط تاثیر لري،او په سلو کې ٦٪ ځواب ورکړې چې ډیر کم تاثیر لری.او په سلو کې ۱٪ ځواب ورکړي چې ډیرکم دنفوس ډیروالی په څمکه لاندی اوبو اغیزی لري،نو دگراف کلی نتیجه داشوه چې دنفوس ډیریدل په نوموړی ناحیه کې ترڅمکه لاندی اوبو ډیر زیات تاثیر لری.

دریمه پوښتنه : په دغه سیمه کې دڅینو اوبوته لاسرسي په کومه اندازه دی؟




شکل۱۰: دڅینو اوبو دلاسرسی کچه

تشریح: دپورته گراف له مخې دځواب ورکونکود ځوابونو په اساس په پنځمه ناحیه په سلوکی ۵۷٪ ځواب ورکونکو ځواب ورکړی چې په نوموړی ناحیه کی دڅینو اوبو ته ډیر کم خلک لاسرسی لري، او په سلو کې ۳۰٪ ځواب ورکونکو ځواب ورکړي چې دڅینو ته لاسرسی کم دی او په سلو

کی%۱۰ ځواب ورکړی چی متوسط لاسرسی لرې او په سلو کي ۲٪ ځواب ورکړی چي زيات لاسرسی لری،او په سلو کی ۱٪ ځواب ورکړی چي ډير زيات لاسرسی لری.

څلورمه پوښتنه :په دغه سيمه کي دنل داوبو څخه دڅښاک لپاره لاسرسي څومره دي؟




شکل۱۱: دنل اوبو دلاسرسی کچه

تشريح: دپورته ګراف په اساس د ځواب ورکونکو له جملې په سلو کي ۴۳٪ ځواب ورکړی چي دنل اوبو ته ډير کم لاسرسی لری،په سلو کی ۲۷٪ ځواب ورکړی چي دنل اوبو ته په متوسط ډول لاسرسی لری،او په سلو کی ۱۷٪ځواب ور ګړی چي دنل اوبو ته زيات لاسرسی لری،او په سلو کی ۱۲٪ کسانو ځواب ورکړی چي دنل اوبو ته ډير زيات لاسرسی لری،او په سلو کی ۱٪ ځواب ورکونکو ځواب ورکړی چي د نل اوبو کم لاسرسی لری.

پنځمه پوښتنه :دڅښاک لپاره دڅاه داوبو څخه په دغه سيمه کي د استفادې کچه څومره ده ؟




شکل۱۲: دڅاه اوبو ته دلاسرسی کچه

تشریح:د پورته ګراف په اساس، دخواب ورکونکو د ځواب له مخې په سلو کې ٪۵۲ ځواب ورکونکیو دډېر زیات ځواب انتخاب کړي دی،او په سلو کی ٪۱۹ نفرو د زیات ځواب انتخاب کړی دی،او په سلو کي ٪۱۸ متوسط ځواب انتخاب کړی دي،او په سلو کي ٪۷ دکم ځواب انتخاب کړی دی ،او په سلو کې ٪۴ دډېر کم ځواب انتخاب کړی دي،نوددی څخه دا نتیجه کیدلای شي چي په پنځمه ناحیه کي خلک دځمکې لاندی اوبو څخه زیاته استفاده کوی.

شپږمه پوښتنه : په پنځمه ناحیه کي اوس محال دڅښاک سالمو اوبو دلاسرسي دارزوني کچه څومره ده ؟




شکل۱۳: سالمو ته اوبو دلاسرسی داوسنی وضعیت ارزونه

تشریح: دپورته ګراف په اساس په سلو کی ٪۴۸ ځواب ورکونکو ډیر کم ځواب انتخاب کړی دی،او په سلو کي٪۳۵ ځواب ورکونکو دکم ځواب انتخاب کړی دی،او په سلو کي ٪۱۴ دمتوسط ځواب انتخاب کړی دی او په سلوکي ٪۲ځواب ورنکیو د زیات ځواب انتخاب کړی دی،او په سلوکي ٪۱ نفرو د ډیر زیات ځواب انتخاب کړی دی،نو ددغه ګراف دخلکو دځوابونو په اساس کلی نتیجه دا ده چی په پنځمه ناحیه کی سالمو اوبو د خلکو دلاسرسی دفعلی وضعیت د ارزوني کچه ډیره کمه ده ،

اوومه پوښتنه:په دغه سیمه کي د څښاک داوبو دککړتیا په هکله د خلکو دپوهاوي کچه څومره ده ؟




شکل۱۴: دککرو اوبو په هکله دخلکو دعامه پوهاوی کچه

## ٤- پایلې

د کابل ښارپه پنځمه ناحیه کې د اوبو په برخه کې د مشکلاتو دپیدا کولو په موخه مو دنومړې ناحیې داوسیدونکو دځواب ورکوونې په اساس شته ستونزې ارزولې دي ،ددغه څیړنې هدف د کابل ښار په پنځمه ناحیه کې صحیح او پاکو اوبو ته دخلکو لاسرسی ارزولی دي او همدارنګه د نومړې ناحیې داوسیدونکو داوبو دمصرف ډول، داوبو دکمبود عوامل،دتصفیه شویو اوبو څخه استفاده او داوبو دککړونکو سرچینو په هکله عامه پوهاوی،او همدارنګه نومړی ناحیې د اوبو کیفیت هم ارزولی دي.

۱- په نومړې ناحیه کی دښښاک سالمو اوبو ته دلاسرسې کچه کمه ده ، عمده لاملونه یی اوبو کمبوداواوبه رسونې دښبکو پروخت او معیاري ډول داوبو نه رسونه، داوبو په بی ځایه مصرفولو کې، دحکومت او خلکو لخوا نه همکاری ده

۲- په نومړې ناحیه کې د اوبو دککړونکو سرچینو په هکله عامه پوهاوی په ښه کچه دي،ځکه دنومړې ناحیې اکثریت خلک یی دښښاک لپاره دمعدنی او تصفیه شویو اوبو څخه استفاده کوي.

۳ـ په پنځمه ناحیه کي د اوبو دکمبود لاملونه دنومړې ناحیې داوسیدونکو د څوابونو په اساس وچکالي،بی رویه استفاده،او دنفوس ډیریدل دي .

۴ـ په نومړی ناحیه کي داوبو دسرچینو عرضه په ورځ کي د۱۵۰ ـ ۲۰۰لیترو اوپه بعضو وختونو کي تردی هم کمه ده.

۵ـ په نوموړی ناحیه کی په اکثریت ډول اوبه په کورنیو اموراتو کي لکه ځنباک،پخلي او داسی نورو  مسایلو کي مصرفیږي او په کمه اندازه په نورو برخو موټرشویی ،زراعت او داسی نورو برخو کی په مصرف رسیږي.

٦ـ په نوموړی ناحیه کي د چینو او کاریز د اوبو څخه استفاده بیخي کمه ده،ډیره استفاده د ژوروڅاګانو او دنل له اوبو څخه ده

پنځمه ناحیه کي د اوبه رسوني 10شرکتونه او یاهم شبکې موجودې چې یوه یی دولتي او باقی یی شخصی شرکتونه دي .

د اوبه رسوني ددغه شبکو څخه ٦۴٪ خلک د شخصی او ۳۰ ٪ د دولتي او تقریبا کمه اندازه یی ٦ ٪ دداوړوشبکو څخه استفاده کوي .

### ۵-   وړاندیزونه

د کابل ښار د ځمکه لاندې اوبو د اوسني حالت په نظرکي نیولو سره او دکابل ښار داوسیدونکو دځوابونو په اساس موږلاندې وړاندیزونه لرو

۱. داوبو دسرچینو مدیریت او باید په اوسنیو بحرانی شرایطو کي داوبو سرچینې په پایداره توګه مدیریت شي.
۲. داوبو په برخه کي سیاست جوړونه.
۳. د اوبو دماستر پلان جوړول.
٤. داوبو دسرچینودغیر پلاني تخلیې او داوبو دسرچینو پرسر د مدیریت لپاره باید ددولت لخوا دجوازنامو یو رژیم رامنځ ته شي ترڅو داوبو څخه نظارت وشي.
۵. د ژورو څاګانو دکیندلو څخه باید مخنیوی وشي.

٦. په نورو ولایتونو کی د کار زمینه برابرول ،او دکابل ښار داوسیدونکو تشویقول ترڅو هغلته ولاړ شي

٧. دسالمو اوبو څاګانو ته په کمه فاصله کي د فاضلابو دسپتیک څاګانو دکیندلو څخّه باید مخنیوی وشي.

## ٦- فهرست منابع


١- اقرار، محمد نعیم.( ١٣٩٥). هایدروجیولوجی . کابل: د کابل پوهنتون مطبعه.

٢- انسا،ا،م،(١٣٩١).دڅښاک اوبو دکیفیت ملی ستندرد :کابل ،افغانستان

٣- سدید، نجیب الله.( ١٣٩٩). دکابل په سمندریزه حوزه کی د سطحی او ځمکې لاندی اویو تعامل: سال ١٣٩٧هـ ش انتشارت عازم

٤- سهیم ,م.ع.(١٣٨٥). دڅښاک اوبو تجزیه،کابل،افغانستان: دکابل پوهنتون .ص ص ٥ ـ ٧.

٥- حبیب، حبیب الله.(١٣٩٧). کیمیای محیط زیست آب: سال ١٣٩٧هـ ش انتشارت عازم .

8. Afzali, AO. (2017). Physicochemical and Bacteriological Quality of groundwater in Kabul basin, Afghanistan.
9. ANAS.(1392). National Drinking Water quality Standard, Afghanistan.
10. Karim, Abdul Qayeum, Sadat, Sayed Hashmat.(2016), potential capacity, scarcity, security issues, and solutions: Groundwater of Afghanistan
11. Paoloni .(2013). Fluorid Contamination of Aquifers in the southeast Sub humid Pampa.
12. Saleem ,M,Hussain .(2016). Analysis of ground Water quality using.
13. Winsent.(2016). Quality of ground water:New York. 2003.
14. Wollast, R. (1990). Rate and Mechanism of Dissolution of carbonates in the System.: Aquatic Chemical Kinetics, 234-239.
15. Stumm, W. (1990). Reaction rate of processes in natural waters: Aquatic Chemical Kinetics, 124-127
16. WSP. (2005) Arsenic Contamination of Groundwater in South and East Asia, I.
17. Zaryab A,noori .(2017). Assessment of groundwater Quality and quantity trends in Kabul City: Afghanistan.

## ضمایم

| فردي ځانګړتیاوي | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| جنسیت | نارینه | ○ | | | ښځینه | | | ○ |
| عمر | ۱٦-۲۰ | ○ | ۲۱-۲۵ | ○ | ۲٦-۳۰ | ○ | ۳۰ پورته | ○ |
| دتحصیلاتو کچه | فارغ ۱۲ | ○ | لیسانس | ○ | ماستر | ○ | بی سواد | ○ |
| دکورنی دغړو تعداد | د ۵څخه کم نفر | ○ | ٦-۸ نفر | ○ | ۹-۱۰ نفر | ○ | له ۱۰زیات نفر | ○ |

### داوبو مربوط سوالونه

| شماره | پوښتنې | ډیر زیات | زیات | متوسط | کم | ډیر کم |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | تاسو ترکومې اندازې پورې دځښاک سالمو اوبو ته لاسرسی لرئ؟ | | | | | |
| ۲ | ستاسو په نظر د کابل ښار دپنځمې ناحیې د نفوس ډیریدل په ځمکه لاندې اوبو اغیزې لري؟ | | | | | |
| ۳ | په دغه سیمه کې دڅښنو اوبوته لاسرسي په کومه اندازه دی؟ | | | | | |
| ۴ | په دغه سیمه کې دنل داوبو څخه دڅښاک لپاره لاسرسي څومره دي؟ | | | | | |
| ۵ | دڅښاک لپاره دڅاه داوبو څخه په دغه سیمه کې د استفادې کچه څومره ده ؟ | | | | | |
| ٦ | په پنځمه ناحیه کې اوس محال دڅښاک سالمو اوبو دلاسرسي دارزونې کچه څومره ده | | | | | |
| ۷ | په دغه سیمه کې د څښاک داوبو دککړتیا په هکله د خلکو دپوهاوې کچه څومره ده ؟ | | | | | |
| ۸ | په دغه سیمه کې د تصفیه شویو اوبو څخه داستفادې کچه څومره ده ؟ | | | | | |
| ۹ | ستاسو په نظر ددغه سیمې خلک دغیرو سالمو اوبو څخه دډول ډول رامنځته کیدونکو ناروغیو په هکله دپوهې کچه څومره ده؟ | | | | | |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۰ | په دغه منطقه کې دځنباک داوبو د صحيح توب کچه څومره ده؟ | | | | | |

## دوه ځوابه پوښتنې

| شماره | پوښتنې | بلی | نخیر |
|---|---|---|---|
| ۱ | ستاسو په نظر داوبو ککړتیا په استفاده کوونکو باندی تاثیر لري؟ | | |
| ۲ | آیاتاسو دځنباک صحیح اوبو ته لاسرسی لرئ؟ | | |
| ۳ | آیا ستاسو په منطقه کې د اوبو رسوني معیاری شبکې شته ؟ | | |
| ۴ | آیا تاسو تراوسه داوبو څخه درامنځته شوېو امراضو له امله داکتر ته مراجعه کړې ده؟ | | |
| ۵ | آیاستاسو په منطقه کې دغیرسالمو اوبو دځنباک له امله مرگ پیښ شوي دي؟ | | |
| ٦ | آیا تاسو داوبو دککړونکوسرچینو سره آشنایی لرئ؟ | | |
| ۷ | آیا ستاسو په منطقه کې ددولت دخوانه دصحیح اوبو ته دخلکو دلاسرسي لپاره کوم اقدامات شوي دي؟ | | |
| ۸ | آیا تاسو داوبو دککړتیا او په اوبو کې دزهري عناصرو سره آشنايي لرئ؟ | | |
| ۹ | هغه داوبو رسوني شبکه چې ستاسو په منطقه کې شتون لري آیا ستاسو شپه او ورځنی اړتیا پوره کوي ؟ | | |
| ۱۰ | آیا ستاسو په منطقه کې خلک داوبو بې ځایه مصرفوني په برخه کې همکاري کوي؟ | | |

## دریمه برخه تحلیلی پوښتنې

۱ـ تاسو څومره موده کیږي چې په پنځمه ناحیه کې ژوند کوئ؟

له ۵ کم کاله(  )    ٦ـ ۱۰ کاله(  )    ۱۰ــ ۱۵ کاله(  )    ۱٦ــ ۲۰ کاله(  )  له ۲۱ کاله پورته (  )

۲ـ هغه مقدار اوبه چې چې تاسو یی په ورځ کې مصرفوئ څو لیتره دی ؟

1: ۱ الی ۱۰ لیتر (  )  2: ۱۱ الی ۲۰ لیتر (  )    3: ۲۵ الی ۳۰ لیتر    4: ۳۵ الی ۵۰ لیتر (  )  5: از ۵۰ الی ۱۰۰ لیتر (  )

۳ـ ستاسو د اوبو دمنبع روزانه عرضه ]و ليتره ده ؟

1: ۵۰ الی ۱۰۰ لیتر ( ) 2: ۱۵۰ الی ۲۰۰ لیتر 3: ۲۵۰ الی ۳۰۰ لیتر ( ) 4: ۳۰۰الی ۵۰۰ لیتر ( ) 5: از۵۰۰ بالا ( )

۴ـ تاسو اوبه په کومه برخه کي په مصرف رسوئ؟

۱ـ کورنيو اموراتو( ) ۲ــ زراعت برخه ۳ـ صنعت برخه۳ـ تفریح برخه کی ۴ــ نورو برخو کی ( )

۵ـ تاسو داوبو دکومي مجهزي اوبه رسوني شبکي څخه استفاده کوئ؟

۱ـ دولتی ( ) ۲ـ شخصی( ) ۳ــ دواړه( )

٦ـ ستاسو په منطقه کی داوبو دکمبود لاملونه څه دي ؟

۱ـ بی رویه استفاده ( )

۲ــدنفوس ډیریدل( )

۳ـ وچکالی( )

۴ــ داقلیم تغیریدل( )

۵ـ تپول( )